# د افغانستان اسلامي امارت

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد د مرکز او ولایاتو**
**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۱۱/ ربیع الأول/۱۴۴۴هـ ق مطابق۱۵ / میزان/۱۴۰۱هـ ش**

## د سرور کائنات حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم نیکمرغه میلاد

الحمد لله الذی من علی المؤمنین إذ بعث فیهم رسولا من أنفسهم یتلو علیهم آیاته ویزکیهم ویعلمهم الکتاب والحکمة وإن کانوا من قبل لفي ضلال مبین، وأشهد أن لآإله إلا الله وحده لاشریک له فی خلقه وملکه، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله المبعوث بالدین القویم رحمة للعالمین وإمام المتقین صلی الله علیه وسلم وعلی آله واصحابه أجمعین . وبعد:

قال الله سبحانه وتعالی:{وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ} الأنبیاء: (۱۰۷)

شاعر وایي:

در دل مسلم مقام مصـــــــــــطفی است　　آبروی ما زنام مصـــــــــــــطفی است
درشبستان حـــــــــراخلوت گــــزید　　قوم وآیین وحـــــــــــــکومت آفرید
روز محشـــــــــر اعتـــــبار ماست او　　درجهان هـــــــــم پرده دار ماست او

" اقبال لاهوری"

گرانو هیوادوالو او اوریدونکو!

د هر امت لپاره وتلی نومیالی او عظیم شخصیت وي چې تاریخونه یې مناقب لیکي، اعمال یې ثبتوي، صفتونه یې لیکي، مبارزې یې ثبتوي، زړورتیا او شجاعت یې لیکي، اخلاق یې لیکي او دخپل قوم او امت لپاره چې یې کوم خدمات کړي دي هغه ضبطوي ترڅو د راتلونکو نسلونو لپاره د لارې مشال وي او نسلونه د هغه په لاره روان شي او په هغه پسې اقتداء وکړي.

لله الحمد د الله تعالی لوی احسان دی چې زمونږ لپاره یې لوی پیشوا او لارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د پیغمبر په حیث رالیږلی دی او مونږ ټول د هغه امتیان او متبعین یو.

د صحابه کرامو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم تاریخ زیات مهم ؤ؛ د همدې امله کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو او دوی غوښتل چې د مسلمانانو لپاره اسلامي تاریخ رامنځ ته کړي ټولو په دې اتفاق درلود چې رسول الله صلی الله علیه وسلم باید تاریخ د تاریخ اساس وي خو په دې کې سره مختلف ؤ چې له کوم ځای یې شروع کړي.

امام سرخسي رحمه الله وايي:(وكتب التاريخ في زمن عمر رضي الله تعالى عنه فإنه شاور الصحابة رضوان الله عليهم في التاريخ من أي وقت يعتبرونه فمنهم من قال من مولد رسول الله صلى الله عليه وسلم ومنهم من قال: من وقت مبعثه ومنهم من قال من وقت موته ثم اتفقوا على التاريخ من وقت الهجرة وهو المعروف الذي يتعامل عليه الناس إلى يومنا هذا). المبسوط.

وليكل شو تاريخ د حضرت عمررضي الله عنه په زمانه کې، عمر رضي الله عنه د صحابه کرامو سره مشوره وکړه د تاريخ په اړه چې دکوم وخت څخه يې پيل کړي؟ چا ويل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پيدايش څخه به يې پيل کړو، چا ويل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بعثت څخه به يي پيل کړو، چاويل چې د رسول الله صلى الله د وفات له وخت څخه به يې پيل کړو، بيا ټول په دې متفق شول چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجرت څخه به يي پيل کړوچې دا بيا معلوم دی او خلك ورباندې تعامل کړی دی زمونږ تر دې ورځې پورې.

د پورتني عبارت څخه په ډاګه معلوميږي چې د پيغمبرعليه السلام پيدايش او وفات تاريخونه دواړه صحابه کرامو ته مهم ؤ او همدا وجه وه چې صحابه کرامو د پيغمبرعليه السلام شخصيت د تاريخ لپاره مبدأ او اصل وګرځاوه، مونږ هم نن ورځ د هماغه مبارك شخصيت تاريخ او سيرت بيانوو ترڅو نوی نسلونه د خپل پيغمبر د شخصيت څخه اګاه شي او خپل رهبر وپيژني او دهغه په نقش قدم قدم کيږدي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيدايش:

تاريخ پوهان او مؤرخين په دې کې متفق دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ربيع الأول مياشت د دوشنبې په ورځ دعام الفيل په دوهم کال په مکه مکرمه کې په شعب بنی هاشم کې نړۍ ته سترګې وغړولې؛ البته په دې کې سره اختلاف لري چې د ربيع الأول کوم تاريخ ؤ؟ ځينې وايې د ربيع الأول اتم تاريخ ؤ، ځينې وايې د ربيع الأول نهم تاريخ ؤ، ځينې بيا وايې د ربيع الأول لسم تاريخ ؤ او ځينې نور په دې نظر دي چې د ربيع الأول دولسم تاريخ ؤ چې دا مشهور او راجح قول دی چې دا تاريخ د آپريل دمياشتې د شلم يا يويشتم د (٥٧١) ميلادي سره سمون خوري. [الفصول في اختصار سيرة الرسول لابن كثير، إمتاع الأسماع للمقريزی

د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ددوشنبې ورځې د روژې په اړه پوښتنه وشوه پيغمبر عليه السلام وفرمايل:( ذَلِكَ يَومٌ وُلِدْتُ فِيهِ ، وَيَومٌ بُعِثْتُ ، أَوْ أُنْزِلَ عَلَيَّ فِيهِ ) رواه مسلم .

ترجمه:- دا هغه ورځ ده چې زه په کې پيدا شوی يم او په همدې ورځ په پيغمبرۍ مبعوث شوی يم يا يې داسې وفرمايل چې په دغه ورځ پرما وحی نازل شوی ده.

ددې څخه وروسته لکه چې په صحيح آحاديثو کې راځي رسول الله صلى الله عليه وسلم د شيدو خوړلو لپاره د بنی سعد قبيلې حليمه سعديه ته ورکړل شو، حليمه سعديې ورته شيدې ورکړی او کله چې دحليمې سعديې سره ؤ هماغه ځای کې يې شق صدر يا دسينې څيرل وشو، کله چې د شيدو خوړلو موده يې پوره شوه خپلې مور ته يي واپس کړ او درسول الله صلى الله عليه وسلم سرپرستي او پالنه د هغه دنيکه عبدالمطلب په غاړه شوه ، رسول الله صلى الله عليه وسلم اته کلن ؤ چې نيکه يې عبدالمطلب وفات شو او د هغه سرپرستي او پالنه د هغه کاکا ابوطالب په غاړه واخيسته او له هغه څخه به يې محافظت او مواظبت کاؤ.

د دولسو کالو ؤ چې تره یې ابوطالب له ځانه سره د شام په تجارتي سفر بوتللو چې دا هم د هغه دحفاظت وړاندوینه کوي.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم میلاد او پیدایش تنها د تاریخي واقعاتو یا دجالبو داستانونو اوحوادثو رانقلول نه دي؛ بلکې ددې ورځې دلمانځلو څخه هدف د اسلام ټول حقیقت د رسول الله صلی الله وسلم په مبارک شخصیت کې مجسم کول دي.
حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) ترټولو پاک او سپیڅلی، ترټولو غوره او لکه په صدف کې پروت دنړۍ تر ټولو قیمتي گوهر په څیر دی.

په ټولو کې پاک او دعالي سیرت څښتن حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دې نړۍ ته سترگې وغړولې، هغه صلی الله علیه وسلم په پاکه لمن کې رالوی شو اوځوانۍ ته ورسید او دخپلو نیکونو په شان(ابراهیم او اسماعیل علیهم السلام) له بت پرستۍ او شرک څخه بیزاره او په ویښ او بیداره ضمیر سره یې په خپل رب ایمان درلود.

او په خپل جمال سره معنوي کمال ته ورسید، په خپلو عالي اخلاقوسره، ریښتیني وینا او کردار سره، پاکي اونجابت سره ، صداقت او امانت سره یې د خپل ژوند په شپو او ورځو کې د کور، کلي او علاقې خلک ځان ته جذب کړل او په هغه مرحلو اوځایونو کې یې قدم کیښود چې یواځې هغه صلی الله علیه وسلم کولای شول چې هلته قدم کیږدي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په پیغمبرۍ مبعوث شو په دې برکتي وخت کې حضرت جبرائیل امین دالله تعالی له لورې حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ته د{ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ} العلق:(۱) آیتونه نازل کړل او ددی په ویلو سره د هغه د رسالت او بعثت اغاز و شو.

حضرت محمدصلی الله علیه وسلم په داسې وخت کې نړۍ ته راغی چې ټوله نړۍ په جهالت او تاریکیو کې ډوبه وه، خلک له ظلمونو وحشتونو او ډول ډول اضطرابونو سره لاس او گریوان ؤ ، خلک د ستم ، فساد په اور کې پراته ؤ.

د اسلام دین څرک ووهلو حضرت محمدصلی الله علیه وسلم راڅرگند شو؛ ترڅو دالله تعالی واحد ذات په ارادې سره د تیرو پیړیو څخه راپاتې ظلمونو، نابرابریو او ناخوالو په مقابل کې په اوچت آوازسره ټولو انسانانو ته داسې ووایې: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} الحجرات:(۱۳)

ترجمه:- ای خلکو! بیشکه مونږ پیداکړي یی تاسې له یوه سړي او له یوې ښځې او وه یې گرځولی مونږ تاسې څانگې او قبیلې د پاره ددې چې وپیژنی یو له بل سره بیشکه ډیر مکرم او معزز له تاسې څخه په نزد د الله ډیر متقي ادب لرونکی ستاسې دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم تربعثت پورې د ټولو ظلمونو، ستمونو او د جابرانو دسلطې څخه دآزادۍ ، خلاصون شعار ورکولو چې په نتیجه کې همداسې وشول او په ډیرې تیزۍ سره دحضرت محمدصلی الله علیه وسلم اسلامي تعلیماتو، لارښوونو او دقرآن کریم ژوند ښوونکي آیاتونو؛ نه یواځې ټوله جزیرة العرب ونیوله بلکې دنړۍ نورې برخې یې ولړزولې او دزمکې هرکونج کې چې چا دا آواز اوریدلی دی هغه یې منلی دی او ایمان یې ورباندې راوړی دی.

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیدایش د مسلمانانو لپاره ستر نعمت دی:**

**الله جل جلاله پر انسانانو لوی احسان کړی دی چې مونږ ته یې ستر پیغمبر محمدصلی الله علیه وسلم رالیږلی دی ؛ ترڅو مونږ ته د الله تعالی آیتونه بیان کړي او مونږ د جاهلیت د وخت د بدو خویونو او صفتونو څخه پاک کړي او له تیاریو څخه مو را وباسي او خپل سنت را ته وښايي چې په حقیقت کې د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم را لیږل د الله جل جلاله لوی نعمت دی.**

**الله تعالی ددې نعمت څخه یادونه کوي او فرمايي: {لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آياتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُبِينٍ}آل عمرا: (164)**

**ترجمه:- خامخا په تحقیق احسان کړی دی الله پر مؤمنانو باندې کله چې مبعوث کړ په دوی کې رسول له نفسه ددوی چې لولي په دوی باندې آیتونه دالله او پاکوي دوی او ښيي دوی ته کتاب او حکمت او بیشکه وو دوی پخوا هرومرو په گمراهۍ ښکاره کې.**

**امام قتاده رح ددې آیت په تفسیر کې فرمايي: الله تعالی پرمؤمنانو احسان وکړ چې دوی ته یې ددوی د جنس څخه پیغمبر راولیږلواو پرته ددوی د غوښتنې څخه یې ورته پیغمبر ور واستلو او الله ورته پیغمبر رحمت وگرځولو ددې لپاره چې دوی د تیارو څخه روښنايي ته او سمې لارې ته یې دعوت کړي او ورته وښايي سنت ولو که دوی مخکې ؤ په ښکاره گمراهۍ کې. الله تعالی خپل پیغمبر داسې قوم ته واستولو چې څوک علم نلري علم ورزده کړي او څوک چې آدب نلري آدب ور زده کړي.** [الطبري]

**د ( من انفَسکم) دوهمه معنا د( ف) فاء توري په فتحې سره ده یعنی ستاسو څخه غوره، اشرف او بهتره.**

**په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی ددې نعمت داسې یادونه کوي: {لَقَدْ جاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ ما عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُفٌ رَحِيمٌ} التوبة: (128)**

**ترجمه:- خامخا په تحقیق راغلی دی تاسې ته یو رسول له جنسه ستاسې چې ډیرسخت درووند دی په ده باندې هغه کار چې تاسې تکلیف مومی ډیر حرصناک دی په تاسې خاص پر مؤمنینو باندې نهایت شفیق ډیر مهربان دی.**

**حافظ ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې فرمايي: الله تعالی مؤمنانو ته د انعام په توگه وریادوي چې تاسو ته مې ستاسو دجنس څخه رسول درلیږلی دی.[تفسیر ابن کثیر]**

**په دې سورت کې الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پنځه صفتونه بیان کړي دي: ۱-داسې رسول دی چې ستاسو دانسانانو له جملې څخه دی.۲-ستاسو په تکلیف او غم خپه کیږي.۳-ستاسو ددنیا او آخرت په خیر باندې حریص دی.۴، ۵- په مؤمنانو زړه سواندې دی او په عامو خلکو مهربانه دی.[تفسیر کبیر]**

**په یو بل ځای کې الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رالیږلو څخه د نعمت په توگه یادونه کوي او فرمايي: {هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آياتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُبِينٍ}الجمعة: (2)**

**ترجمه:- الله هغه ذات دی چې لیږلي یې دی په امیانو ناپوهانو کې یو رسول له دوی څخه چې لولي پر دوی باندې آیتونه ددې(قرآن) او پاکوي دوی( له شرک او گناهونو) او ښيي دوی ته کتاب او احکام؛ اگر که وو دوی پخوا خامخا په گمراهۍ ښکاره کې.**

**یعنی یواځې دا نعمت نه دی چې الله تعالی دوی ته رسول الله صلی الله علیه وسلم راولیږه؛ بلکې دوی ته یې د گمراهۍ څخه نجات هم ورکړ.[التحریر والتنویر]**

امام محمد بن کعب قرظي رح د( عن النعيم) په تفسیر کې وایې چې ددی نعمت څخه مراد حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دی.[الطبری]

امام ابن رجب حنبلي رحمه الله وايي: په دې امت باندې د الله تعالی له لویو نعمتونو څخه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم را ظاهرول او د هغه بعثت دی لکه چې الله تعالی فرمايي(لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ)، امت ته د پیغمبرعلیه السلام د را لیږلو نعمت د آسمان، ځمکې، لمر، سپوږمۍ، هوا، شپه، ورځ، د باران او د نباتاتو د زرغونیدلو او نورو نعمتونو څخه خورا زیات لوی نعمت دی.[تفسیر ابن رجب الحنبلي]

د سورت آل عمران پورتنی آیت په وضاحت او صراحت سره فرمايي چې پیغمبرعلیه السلام د الله تعالی نعمت او احسان دی، د رسول او پیغمبر څخه بل ستر نعمت نشته؛ ځکه رسولان او پیغمبران د ټولو نعمتونو اصل دی، پیغمبر او رسول هدایت او روښنايي ده، که چیرې پیغمبرنه وي انسان به دجهل په تورو تیاریکیو کې پروت وي او ښه به له بدو ونه پیژني.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابراهیم علیه السلام دعاء او دعیسی علیه السلام بشارت دی:

کله چې ابراهیم علیه السلام بیت الله شریف جوړولو او اسماعیل علیه السلام هم ورسره ؤ د مکې راتلونکو نسلونو ته یې داسې دعاء وکړه:{ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ} البقرة: (129)

ترجمه:- ای ربه زمونږ! پیدا کړه په دوی کې یو رسول ددوی ځینی چې دی به لولي دوی باندې آیتونه ستا او ښی به دوی ته کتاب( قرآن) او حکمت او پاک کړي دوی( شرک او گناه څخه) بیشکه ته هم دا ته یې ښه غالب د حکمت خاوند.

ټول مفسرین وايي چې ددې رسول څخه مراد حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی.

امام جریر طبری وايي: د ابراهیم او اسماعیل علیهم السلام دعاء یواځې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کی وه.[ طبری]

همدا راز عیسی علیه السلام خپل قوم ته داسې وویل:{وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرائيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ }الصف:(6)

ترجمه:- او کله چې وویل عیسی ځوی د مریم داسې چې ای بنی اسرائیلو بیشکه زه رسول لیږلی شوی دالله یم تاسې ته، تصدیق کوونکی یم د هغه کتاب چې وړاندې زما دی دتورات څخه او زیری ورکوونکی یم په هغه رسول سره چې را به شي وروسته له ما څخه چې نوم د هغه احمد دی.

حضرت عیسی علیه السلام خپل قوم ته وویل چې زما څخه وروسته به بل پیغمبرراځي چې ده هغه نوم به احمد وي او تاسو وربادې ایمان راوړئ او بله داچې په دې آیت کې د عیسی علیه السلام دمعجزې ذکر دی.

د همدې کبله رسول الله صلی الله علیه وسلم به ویل:( إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ لَخَاتَمُ النَّبِيِّينَ وَإِنَّ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلام لَمُنْجَدِلٌ فِي طِينَتِهِ وَسَأُنَبِّئُكُمْ بِأَوَّلِ ذَلِكَ دَعْوَةُ أَبِي إِبْرَاهِيمَ وَبِشَارَةُ عِيسَى بِي وَرُؤْيَا أُمِّي الَّتِي رَأَتْ). مسند أحمد، المستدرک

ترجمه:- زه د الله تعالی بنده ( په ازل کې) خاتم النبیین وم او آدم علیه السلام په ځمکه پروت ؤ په خپله خټه کې او زه به مو خبر کړم ددې خبری په اول سر دعاء یوه زما دپلار ابراهیم علیه السلام دعاء وه او بل د عیسی علیه السلام زیری ؤ او بل زما دمور خوب ؤ هغه خوب چې لیدلی یې ؤ.

په یو صحیح روایت کې راځي: سأل النبي صلى الله عليه وسلم اليهود فقال: أَسْأَلُكُمْ بِكِتَابِكُمُ الَّذِي تَقْرَءُونَ هَلْ تَجِدُونَ بِهِ قَدْ بَشَّرَ بِي عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ أَنْ يَأْتِيَكُمْ رَسُولٌ اسْمُهُ أَحْمَدُ؟ فَقَالُوا: اللَّهُمَّ وَجَدْنَاكَ فِي كِتَابِنَا.[تفسير الطبري]

ترجمه:- ستاسو څخه ستاسو د کتاب په اړه پوښتنه کوم چې تاسو يې لولی آيا تاسو په تورات کې پيداکړی دی چې په کې ليکل شوي دي چې زما په اړه عيسی عليه السلام زيری ورکړی دی چې تاسو ته به يو رسول راشي چې نوم به يې احمد وي؟ يهودو وويل: قسم په الله چې مونږ ته موندلی يې زمونږ په کتاب کې.

الله تعالی رسول الله صلی الله عليه وسلم د شاهد، زيری ورکوونکي او ويرونکي په نامه ستايلی دی:

الله تعالی فرمايلي دي:{يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا}الاحزاب:(45)

ترجمه:- ای نبی! بيشکه مونږ ته ليږلی يې شاهد، زيری ورکوونکی( په جنت باندې مؤمنانو ته) او ويره وونکی( د جهنم څخه)

په يوروايت کې راځي: (عن عطاء بن يسار، قال: لقيت عبد الله بن عَمْرو بن العاص، فقلت: أخبرني عن صفة رسول الله صلى الله عليه وسلم في التوراة. فقال: أجل، والله إنه لموصوف في التوراة بصفته في القرآن: يا أيها النبي إنا أرسلناك شاهدًا ومبشرًا ونذيرًا، وحرزًا للأميين) مسند احمد.

ترجمه:- عطاء ابن يسار وايې چې ما دعبدالله ابن عمرو بن العاص رضي الله عنه سره مخامخ شوم - چې د پخوانو کتابونو عالم ؤ-ورته مى وويل په تورات کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صفت څخه ماته خبر راکړه. هغه راته وويل سمه ده. بيشکه پيغمبر عليه السلام په تورات کې په هغه صفتونو باندې ياد شوی دی کوم چې په قرأن کريم کې موجوددي هغه دادي ای پيغمبره مونږ ته ليږلی يې شاهد او زيری ور کونکی او ويرونکی او ځای د پناه لپاره د اميانو.

همدا راز په يو بل مبارک آيت کې راځي:{وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا}البقرة:(١٤٣) .

ترجمه:- او همداسې گرځولی يې مونږ تاسې يوه ډله غوره لپاره ددې چې شی شاهدان په نورو خلکو او چې شي رسول پرتاسې شاهد.

الله جل جلاله د ټولو پيغمبرانو څخه مضبوطه وعده اخيستی وه چې په محمد صلی الله عليه وسلم به ايمان راړوئ، د هغه مرسته او نصرت به کوئ:

الله جلاله فرمايي:{وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ} آل عمران: (81)

ترجمه:- او هغه وخت چې واخيست الله عهد محکم له ټولو انبياوو چې خامخا هغه شی چې درکړم زه تاسې ته چې هغه کتاب او حکمت دی بيا راشي تاسې ته رسول چې مصدق دی د هغه کتاب چې له تاسې سره دی نو هرو مرو به ايمان راوړئ تاسې خامخا به هغه او هرومرو مدد به کوئ تاسې خامخا ورسره وويل ( الله دوی ته) آيا اقرار وکړ تاسې پر دغه او واخيست تاسې پر دی ټينگه وعده زما وويل دوی اقرار وکړ مونږ وفرمايل (الله) تاسې شاهدان اوسئ او زه هم له تاسې سره د شاهدانو ځينی يم.

قاضی عياض رح فرمايي: الله تعالی له پيغمبرانو کلکه وعده اخيستی ده د وحی په ذريعه او هيڅ پيغمبر نه دی راغلی مگر د محمدصلی الله عليه وسلم يې ورته ياد کړی دی او دهغه صفتونه يې ورته وربښودلي دي او ورڅخه داسې کلکه وعده اخيستی ده که چيرې تاسو د محمد صلی الله عليه وسلم زمانه درک کړه ايمان به ورباندې راوړئ او قوم ته به يې حالت بيانوئ.

حضرت علی رضي الله عنه فرمايي: الله تعالی د آدم عليه السلام څخه را په ديخوا هيڅ پيغمبر نه دی راليږلی؛ مگر د هغه څخه يې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په اړه وعده اخيستل شوی ده اوورته يې ويلي دي که چيرې تاسو ژوندي

وی او هغه راغلی نو  په هغه به ایمان راوړئ او دهغه به نصرت او مرسته کوئ او د هغه په باره کې به هم د خپل قوم څخه وعده اخلئ.
یعنی هغه وخت چې الله تعالی د پیغمبرانو ارواح پیدا کړل د هغوی د ارواحو څخه یې داسې وعده اخیستی وه.[الشفاء]
حضرت قتاده رضي الله فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:(كُنْتُ أَوَّلَ الْأَنْبِيَاءِ فِي الْخَلْقِ ، وَآخِرَهُمْ فِي الْبَعْثِ) تفسير الطبرى
ترجمه:- وم زه اول له انبیاؤ په پیدایش کې او آخر یم په بعثت کې.
ځینې مفسرینو ویلي دي چې الله تعالی ټول پیغمبرانو خطاب د هغوی په نامه سره کړی دی خو محمد صلی الله علیه وسلم ته یې خطاب په رسول او نبي سره کړی دی.[الشفاء]
رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولو انسانانو او مخلوقاتو څخه غوره او افضل دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ترټولو انسانانو حتی تر ټولو پیغمبرانو غوره او افضل پیغمبر دی.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: (اِنَّ اللَّهَ فَضَّلَنِي عَلَى الأَنْبِيَاءِ، أَوْ قَالَ:أُمَّتِي عَلَى الأُمَمِ، وَأَحَلَّ لَنَا الْغَنَائِمَ) الترمذي
ترجمه:- بیشکه الله تعالی زه غوره کړی یم په نورو پیغمبرانو او یا یې داسې وویل چې غوره کړی دی الله تعالی زما امت په نورو امتونو او مونږ ته یې غنیموتونه حلال کړي دي.
امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کې داسې باب قائم کړی دی (باب تفضيل نبينا صلى الله عليه وسلم على جميع الخلائق ) او په دې باب کې یې لاندې حدیث ذکر کړی دی:(أنا سيد ولد آدم يوم القيامة ولا فخر وبيدى لواء الحمد ولا فخر وما من نبى يومئذ آدم فمن سواه إلا تحت لوائى).أحمد ، والترمذى
ترجمه:- زه به غوره یم د ادم د اولادې څخه د قیامت په ورځ او فخر نه کوم او زما په لاس کې به د حمد بیرغ وي او فخر نه کوم او په دغه ورځ به هیڅ نبي نه وي آدم علیه السلام او نور مګر زما دبیرغ لاندې به وي.
په یو بل حدیث کې راځي: (وَأَنَا أَكْرَمُ وَلَدِ آدَمَ عَلَى رَبِّيِ وَلَا فَخْرَ) سنن الترمذي
ترجمه:- او زه د آدم د اولادې څخه په خپل رب باندې تر ټولو زیات قدر من او ګران یم او فخر نه کوم.
کله چې ابوطالب شام ته په سفر لاړ او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم ورسره ملګری ؤ دوی په یو راهب باندې ورپیښ شول، هغوی خپل بارونه واړول هغه راهب ورته راووتلو له دې مخکې به مسافر ددغه راهب خواته ورتلل خو هغه به ورته نه راوتلو کله چې دوی خپل بارونه خلاصول هغه راهب ددوی له منځه راووتلو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته راغی او رسول الله صلی الله علیه وسلم یي د لاسه ونیولو او داسې وویل:(هَذَا سَيِّدُ العَالَمِينَ، هَذَا رَسُولُ رَبِّ العَالَمِينَ، يَبْعَثُهُ اللَّهُ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ) سنن الترمذي
ترجمه:- دا د عالمیانو سردار دی، دا د الله تعالی پیغمبر دی، الله تعالی به یې عالمیانو ته د رحمت په توګه پیغمبری مبعوث کړي.
د رسول الله صلی الله حسب او نسب دواړه تر ټولو پاک ؤ:

په یو حدیث شریف کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: (أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ، إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ الخَلْقَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ فِرْقَةً، ثُمَّ جَعَلَهُمْ فِرْقَتَيْنِ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ فِرْقَةً، ثُمَّ جَعَلَهُمْ قَبَائِلَ، فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ قَبِيلَةً، ثُمَّ جَعَلَهُمْ بُيُوتًا فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ بَيْتًا وَخَيْرِهِمْ نَسَبًا) اخرجه الترمذي وقال: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه:- زه محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب یم ، بیشکه کله چې الله تعالی خلك پیداکړل زه يې په غوره ډله کې وگرځولم يعنی انسانانو کې بیايې خلك دوه ډلې کړل زه بیا هم په غوره ډله کې وگرځولم بیايې انسانان په قبیلو وویشل زه يې په غوره قبیله کې پیداکړم بیا يې خلك په کورونو وویشل زه يې په غوره کور کې او غوره نسب کې پیداکړم.
په یو بل حدیث کې راځي: (وَلَمْ يُصِبْنِي مِنْ زَعْمِ الجَاهِلِيَّةِ، وخَرَجْتُ مِنْ نِكَاحٍ وَلَمْ أَخْرُجْ مِنْ سِفَاحٍ، مِنْ لَدُنْ آدَمَ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى أَبِي وأُمِّي، وَأَنَا خَيْرُكُمْ نَفْساً وخَيْرُكُمْ أَبًا) البیهقی فی الدلائل.
ترجمه:- او ماته نه رسیدلی گمان دجاهلیت او زه دنکاح څخه پیداشوی یم او دزنا څخه نه یم پیداشوی د آدم علیه السلام څخه شروع زما د پلار او مور پوری زه په تاسو کې غوره یم دنفس په اعتبارسره او غوره یم د پلار په اعتبار سره.
هرقل د قریشو له استازو ابوسفیان څخه وپوښتل:(كَيْفَ نَسَبُهُ فِيكُمْ؟ قُلْتُ هُوَ فِينَا ذُو نَسَبٍ) صحیح البخاري د رسول الله صلی الله علیه وسلم نسب په تاسو کې څنگه دی؟ ما ورته وویل: هغه په مونږ کې د غوره نسب څښتن دی.
پر مونږ باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حقوق:

پر مونږ باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حقوق دادي چې هر کله چې الله تعالی مونږ ته ایمان را په برخه کړ هر هغه څه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته ویلي دي پر مونږ فرض دي چې هغه پرته د چون او چرا څخه هغه ومنو او ایمان وربانديې راوړو او د پیغمبرعلیه السلام د ټولو اوامرو څخه اطاعت وکړو او دهغه دټولو نواهیو څخه ځان وساتو چې دا ډول منل باید د زړه له تله ، دکامل تسلیمیدو او په پوره رضایت سره مل وي.

ددې څخه علاوه پر مونږ باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نور حقوق شته( دهغه څخه زمونږ وجود ، مور او پلار او ټول فدا وي) چې په لنډه توگه ورڅخه یادونه کوو:

لومړی:- د خپل ځان ، اهل ، اولاد او ټولو خلکو څخه زیات د هغه سره محبت ساتل:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مونږ دا حق دی چې مونږ دخپل ځان ، اولاد ، مور او پلار او ټولو خلکو څخه زیات له هغه سره محبت وکړو. په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ( لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ) صحیح البخاري

ترجمه: کامل مؤمن کیدای نشي یو کس ستاسو څخه تر دې پوری چې زه ورته زیات محبوب نشم د هغه دپلار څخه ، د هغه د بچي څخه او دټولو خلکو څخه.

بدیهي ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د محبت مخلصانه دعوا د هغه څخه په متابعت کې او دهغه د سنتو څخه په پیروی کې ښکاره کیږي او څوك چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروي او متابعت نه کوي هیڅکله د پیغمبرعلیه السلام سره د محبت او دوستی په دعوا کې ریښتنی نه دی.

دوهم:- د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت کول فرض دی:

پر مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم داحق دی چې د هغه اطاعت وکړو او دهغه د لارښوونو پیروي وکړو؛ځکه پرته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اطاعت او پیروی څخه د مسلمان ایمان نیمگړی دی.

**الله تعالی فرمايلي دي:{ قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ} آل عمران: 32 ترجمه: ووايه چي اطاعت کوئ دالله او د رسول.**

**په يو بل آيت شريف کې راځي:{وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ}آل عمران: ١٣٢ ترجمه: او حکم ومنئ د الله او د رسول لپاره ددی چې پر تاسې رحم وکړی شي.**

**په يو بل مبارك آيت کې راځي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم اطاعت د هدايت متضمن دی: {وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا}النور:٥۴**

**ترجمه:- او که اطاعت وکړی حکم ومنی تاسې ددغه (رسول الله ) نو سمه صافه ليار به ومومئ او حق ته به پری ورسيږی.**

**د رسول الله په اطاعت کې د الله تعالی اطاعت پروت دی. { مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ}النساء:٨٠ ترجمه: هرچاچې حکم ومانه د رسول نو په تحقيق چې حکم يې ومانه د الله.**

**د رسول الله صلی الله عليه وسلم اطاعت د هغه د سنتو په پيروی کې پروت دی: که چيرې څوك غواړي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم اطاعت وکړي نو دهغه د سنتو دې پيروي او اطاعت وکړي او په ځان دې عملي کړي.**

**د رسول الله صلی الله عليه وسلم له اطاعت څخه پرته مسلمان کمال ته نشي رسيدلی.**

**پيغمبرعليه السلام فرمايي:(مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ) صحيح البخاري.**

**ترجمه:- څوك چې زما اطاعت وکړي په حقيقت کې ده دالله تعالی اطاعت وکړ او چاچې زما نافرماني وکړه په حقيقت کې ده دالله تعالی نافرماني وکړه.**

**دريم:- د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنتو اتباع او پيروي واجب ده:**

**پر مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم حق دادی چې د هغه د سنتو څخه پيروي وکړو او د هغه سنت په خپل ځان باندې عملي کړو. الله تعال فرمايل دي:{قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ}آل عمران: ٣١**

**ترجمه:- ووايه که چيری يي تاسې چې محبت کوی د الله سره پس متابعت وکړې زما چې محبت به وکړي الله له تاسې سره او مغفرت به وکړي تاسې ته گناهونه د تاسې.**

**په يو بل آيت کې الله تعالی فرمايي چې دوی ترهغې پوری کامل مؤمنان کيدای نشي ترڅو پوری چې په خپلو شخړو کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د حَکم په توگه ونه مني.{ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ}النساء: ٦٥**

**ترجمه:- پس قسم دی په رب ستا چې نه مؤمنان کيږي دوی تر هغه پوری چې حَکم( منصف) کړي دوی ته تا به هغه جگړه کې چې پيښه شوی ده په مينځ ددوی کې. يعنی ترڅو پروی چې ستا حکم او فيصلی ته غاړه کينږدي پوره مؤمنان نه دي.**

**بايد چې د ژوند په چارو کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم فيصلو او حکمونو ته غاړه کيږدو او دهغه حکمونه پرځان عملي کړو.**

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:{لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ}الاحزاب: ۲۱

ترجمه:- خامخا په تحقیق دی تاسې ته په رسول الله کې اقتداء غوره نیکه لپاره د هغه چا چې وي دی چې ډاريږي د الله او د ورځي وروستنی.

امام حکیم الترمذی وایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم اسوه په هغه پسې اتباع کول دي او دهغه دسنتو پیروي کول دي او په قول او فعل کې يې مخالفت پریښودل دي.[الشفاء]

تول هدایت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اتباع کې دی او دهغه د سنتوپه پیروی کې دی او درسول الله صلی الله علیه وسلم د مخالفت څخه ځان ساتل لازم دي؛ ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالفت گمراهي ده. الله تعالی فرمایي:{وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى}النساء:۱۱۵

ترجمه:- او هرڅوك چې مخالفت کوي له رسوله وروسته له هغه چې ښکاره شوه ده ته سمه لار او تابع شي بې له لاری د مؤمنانو نو وبه گرځوو مونږ دی هغه لوری ته چې دی ور گرځیدلی دی.

څلورم:- د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند او پس له وفات څخه د هغه عزت کول او درناوی کول.

پر مونږ باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند او پس له وفاته د هغه درناوی او عزت کول فرض دي. باید دهغه د ذات او لاربښوونو او آحادیثو زیات احترام او درناوی وکړو.

الله جل جلاله فرماي:{ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ}الفتح :۸- ۹

ترجمه:- بیشکه مونږ لیدلی يې ته شاهد او زیری ورکوونکی او ویروونکی لپاره ددی چې ایمان راوړی تاسې په الله او په رسول دهغه او مدد وکړی د هغه ددین او تعظیم وکړی د هغه .

قاضی عیاض رح فرمایي: الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم عزت ، احترام او درناوی واجب کړی دی.[الشفاء]

ابن کثیر رح فرمایي: توقروه د توقیر څخه دی احترام، اکرام او لوی گڼلو ته ویل کیږي.[ابن کثیر]

په لاس سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم عزت او احترام کول واجب دي لکه په توره د هغه د ذات څخه دفاع کول او دهغه د وفات څخه وروسته د هغه د دین او سنتو څخه په لاس سره دفاع کول او په ژبه باندې هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم واجب دی لکه په هغه باندې ثنا او درود ویل، د هغه د ذات او عزت څخه په ژبې سره دفاع کول او دهغه دسنتو څخه دفاع کول.

الله تعالی فرمایي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ . يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لا تَشْعُرُونَ }الحجرات:(۱-۲)

ترجمه: - ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی مه وړاندې کوئ امرونه خپل مخکې له صدوره د اوامرو دالله تعالی او د رسول د هغه؛( بلکې انتظار کوئ او امر د هغوی لره) وویریږئ د الله تعال ځینې هر وخت الله تعالی اوریدونکی او ښه

پوهه دی، ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی مه پورته کوئ آوازونه خپل برسیره په آواز دپیغمبر او په لوړه مه پورته کوئ ده لره آواز په خبرو کې لکه په لوړ آواز خبری دبعضو د تاسو له بعضو نورو سره له جهته د ویری ددی چې ضایع به شي عملونه د تاسې او تاسې به پری خبر نه وی.

په یو بل مبارک آیت کې فرمايي:{لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا}النور:٦٣

ترجمه:- مه گرځوئ بلنه د رسول په خپل منځو کې په شان د بلنې د ځینو د تاسې ځینو نورو لره.

ابو محمد مکي رح ددې آیت په تفسیر کې فرمايي: یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په خبرو کې مه مخکې کیږئ او هغه سره په خبرو کې په سخته لهجه خبری مه کوئ او هغه ته په نامه باندې آواز مه کوئ لکه څرنگه چې یو بل ته په نامه سره آواز کوی، بلکې د هغه درناوی وکړئ، د هغه عزت او احترام وکړئ او هغه ته په اشرفو القابو سره آواز وکړئ لکه یارسول الله! یا نبي الله![الشفاء]
د ذکرشووآیتونو په بناء پرمسلمانانو واجب ده چې دخپلوخبروپر مهال د رسول الله صلی الله علیه وسلم قدراو درناوی مراعت کړي.
قاضي عیاض رحمه الله فرمايي: (وَاعْلَمْ أَنَّ حُرْمَةَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعْدَ مَوْتِهِ ، وَتَوْقِيرَهُ ، وَتَعْظِيمَهُ لَازِمٌ كَمَا كَانَ حَالَ حَيَاتِهِ ، وَذَلِكَ عِنْدَ ذِكْرِهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ، وَذِكْرِ حَدِيثِهِ ، وَسُنَّتِهِ ، وَسَمَاعِ اسْمِهِ ، وَسِيرَتِهِ ، وَمُعَامَلَةِ آلِهِ ، وَعِتْرَتِهِ ، وَتَعْظِيمِ أَهْلِ بَيْتِهِ ، وَصَحَابَتِهِ) الشفاء بتعریف حقوق المصطفی

ترجمه:- پوهه شه چې بیشکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم احترام ساتل پس له وفات څخه او د هغه عزت او احترام ساتل داسې واجب دي لکه څرنگه چې د هغه په ژوند کې واجب ؤ او دا لکه د هغه صلی الله علیه وسلم د نوم اخستلو پروخت، د هغه صلی الله علیه وسلم د حدیثو د ذکر پر وخت، د هغه صلی الله علیه وسلم د سنتو پروخت، د هغه صلی الله علیه وسلم د نوم اوریدلو پروخت، د هغه صلی الله علیه وسلم دسیرت پر وخت، د هغه صلی الله علیه وسلم د اولادې سره دمعاملې پر وخت، د هغه صلی الله علیه وسلم د اهل بیتو اوصحابه کرامو د تعظیم په برخه کې.

امام ابو ابراهیم التجیبی فرمايي: په هر مؤمن واجب دي چې هرکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم اخلي او یا دده په وړاندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم اخیستل کیږي چې خضوع، خشوع اختیارکړي او د وقار حالت غوره کړي او له حرکت څخه سکون اختیار کړي او درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هیبت او تعظیم غوره کړي داسې لکه چې هغه ژوندي وي او په وړاندې یې ادب کوي.[الشفاء]

یوځل ابوجعفر منصور دامام مالک رحمه الله سره په مسجد نبوي کې مناظره کوله امام مالک رحمه الله ورته وویل: ای امیرالمؤمنینه! په دې مسجد کې خپل آواز مه اوچتوه بیشکه الله تعالی یو قوم په دې اړه تأدیب کړ (لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ) او دهغه خلکو صفت یي بیان کړ چې خپل آوازونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې ښکته کوي(إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ ) او د هغه بل قوم مذمت یې بیان کړ چې د رسول الله صلی الله په وړاندې خپل آوازونه اوچتوي(إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ) بیشکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم احترام او عزت پس له وفات څخه داسي لازم دی لکه هغه چې ژوندی ؤ، ددې څخه وروسته ابوجعفرمنصور ارامه شو.

امام عبدالرحمن ابن مهدی به چي کله د رسول الله صلى الله عليه وسلم آحاديث لوستل امر به يې کولو چې چوپ شئ او ويل به يې:(لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ) يعنى هغه به دا آيت داسي معنا کولو څرنگه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د خبرو په وخت سکوت واجب دی دغه شان د هغه دآحاديثو دلوستلو پروخت هم سکوت واجب دی.[الشفاء]

اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا مُتَابَعَةَ السَّيِّدِ الْمُبِينِ وَاحْشُرْنَا فِي زُمْرَتِهِ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمْت عَلَيْهِمْ مِنْ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ.

اللهُمَّ ارزقنا شفاعةَ نبيِّنا وأوْرِدْنا حوضه وأسقِنَا منه شربةً لا نظْمأ بعدَها أبداً يا ربَّ العالمين.

اللهُمَّ صلِّ وسلِّم وبارِكْ على عبدِك ونبيِّك محمدٍ وعلى آلِهِ وأصحابِه أجمعين.